# کهسار باقي افغان باقي

ورومبۍ برخه

ځلان مومند

زمونږ قومي شاعر خوشحال بابا وئيلي وو:

درست افغان له قندهاره تر اټکه
سره يو د ننګ په کار پټ او آشکار

دا يو داسې آفاقي شعر دے چې د فرانس د انقلاب نه ئې هم څو عشرې وړاندې د پښتون نېشنلزم يوه سائنسي تشريح کړې ده. د سياسي علمونو د ماهرانو وينا ده چې د نېشنل ازم ټول تشريحات او د يو قوم د تشکيل عناصر د فرانس د انقلاب نه پس د سياسي ماهرانو په علم کښې راغلي دي او زمونږ قومي شاعر دا جزئيات بغير د څۀ رسمي تشريح نه په يو شعر کښې ډېر په اسانۍ بيان کړي دي.د افغان ملت يعني پښتون باره کښې چې څومره زور او شور سره تبصرې او رايې غېرو قومونو په مختلفو ليکونو کښې کړې دي يقين مې نۀ شي چې د بل قوم متعلق عالمي دلچسپي دومره عروج ته رسېدلې وي.

مثلاً د پاکستان شاعر سر ډاکټر علامه محمد اقبال وائي چې:

آسيا يک پيکر آب و ګل است
ملت افغان در آن دلَ است
از فساد او فساد آسيا
از کشاد او کشاد آسيا

يعني ايشيا د خاورې او اوبو يو وجود دے او پښتون (افغان) قوم په دې وجود کښې د زړۀ په شان دے نو د دې زړۀ تباهي او بربادي د ټولې ايشيا خرابي او بربادي ده او د دۀ کاميابي او ښېرازي د ټولې ايشيا خوشحالي ده. سر محمد اقبال سره د افغان/پښتون شناسۍ نورې هم ډېرې حوالې شته. دغه رنګ د پېرنګيانو محققينو او سياستدانانو دپاره هم دا يوه ډېره ښه موضوع پاتې شوې ده. بلکې صرف هغوي نۀ، هنديانو او ايرانيانو ليکونکيو هم افغانانو له کم اهميت نۀ دے ورکړے. شايد چې دوي ټولو افغان شناسه خلقو ته دا خبره معلومه وه چې دا قوم به تر څو صدو پورې د عالمي واقعاتو او سياست مرکزي نقطه پاتې کېږي.

کوم خلق چې نن د پښتنو د يو غېر نمائنده اقليت د مزاج تشدد ته د انتها پسندۍ، عسکريت پسندۍ، بنياد پرستۍ او طالبانيت نومونه ورکوي او خوروي ئې او چا چې د دې مقصد دپاره فوځونه د افغانستان په زمکه خوارۀ کړي دي، د دې خلقو دپاره يو وخت کښې د افغانانو پښتنو د عدم تشدد پاليسي سخته د اعتراض قابله وه. په دواړو حالتونو کښې اصلي مقصد صرف دا وۀ چې پښتون (افغان) قوم باندې خپله بالادستي قائمه کړي. دوي

د ترقۍ په ځغل کښې وروستو پاتې کړي او دوي په سياسي ډول خپلو کښې سره ووېشي ځکه چې د فطرت نګهباني کونکي وړومبنې ذمه وار (بندهٔ صحرائي) خو تېل ځښلي وو او غافله شوے وۀ او کۀ مرد کهستاني يعني غرئيزو خلقو ته زنځير نۀ وے اچولے شوے نو د فطرت د مقاصدو حفاظت به ئې نۀ صرف کړے وۀ بلکې د صحرا او سېدونکي به ئې هم د تېلو د نشې نه رابهر کړي وو.

دا وګورئ د تېرو دېرشو نه زيات کلونه وشو چې افغانستان د کوم قسم حالاتو سره مخامخ دے خو د دې باوجود افغانان نن هم د ټولو سختيو او مشکلاتو سره ډېر په نره لګيا دي مقابله کوي. کۀ داسې حالت په يو بل قوم راغلے وے نو د هغوي د خرابو به هډو څۀ شمېر نۀ وۀ خو آفرين په افغانانو چې دومره لويې جسماني او نفسياتي حادثې په هغوي هيڅ مضر اثرات ونۀ کړل کوم چې په جنګ وهلي قوم کښې په فطري توګه راپېدا کېږي.

د افغان وزارت خارجه د سېوري لاندې په سيمه کښې د امن او عدم تشدد په اهميت او په معروضي حالاتو د هغې د منطبق کولو په عنوان تېرو ورځو کښې د افغانستان په دارالحکومت کابل کښې يو بېن الاقوامي سيمينار جوړ شو. د سيمينار او کابل کښې د قيام حال به وروستو بيان کړے شي. وړومبے دا مناسب ګڼم چې په دې سيمينار کښې د پاکستان نه محترم افراسياب خټک، د ټېکسټ بُک بورډ پېښور چيئرمېن او معروف دانشور ډاکټر فضل الرحيم مروت (چې د پښتو د صاحب طرز او نابغه مترجم عبدالرحيم مجذوب صاحب زوے دے) او د سنګين ولي خان مرحوم زوے لونګين خان او راقم الحروف شرکت کړے وۀ. د بنګله دېش، هندوستان، جاپان او افغانستان نه هم علمي او سماجي شخصيات دې سيمينار ته رابللي شوي وو. محترم افراسياب خټک صرف په پاکستان کښې نۀ بلکې افغانستان کښې هم د ترقي پسندۍ او قوم پرورۍ د علامت په توګه شهرت لري. هغوي د بوټو په دور کښې يوه اوږده جلاوطني په افغانستان کښې تېره کړې وه او افغانستان کښې خپله يوه حلقهٔ اثر لري. هغوي د دې سيمينار نه مخکښې تشريف وړے وۀ. ما سره ډاکټر فضل الرحيم مروت او لونګين خان ملګري وو.

د پاکستان د يو تش په نوم قومي ائرلا ئن په ذريعه د تګ دپاره مونږ دومره کوشش وکړو څومره چې د مرږ د نوي پېدا شوي بچي د نيولو دپاره کولے شي. د سحر پاؤ باندې اوو بجو د پرواز دپاره ماته يوه شپه وړاندې د ډاکټر فضل الرحيم مروت له اړخه تجويز راغلے وۀ چې انټرنېشنل پرواز دے د وخت نه به نيمه ګېنټه مخکښې رسېدل ضروري وي. زۀ هسې هم د شوګيرې عادت يم او د شپې ډېر کم اودۀ کېږم خو چې دا تجويز راته راورسېد نو خوب رانه بېخي وتښتېدو. سحر په خره ائر پورټ ته روان شوم نو هره يوه لاره بنده وه، چې په کومه لاره به ورتلو نو وردۍ کښې ولاړو کسانو به راواپس کولو. يو عجيبه صورت حال وۀ. ائرپورټ ته چې هر څنګه ورسېدو خو په دې ډېر زيات خوشحاله شوم چې زۀ د ټولو نه مخکښې رسېدلے وم. ډاکټر مروت صاحب هم زما نه وروستو راورسېدو او چې څنګه هغه راغلو نو د لونګين خان

فون ورته راغے چې هغه خو د یوې ګېنتې نه په وې آئي پي لاؤنج کښې زمونږ انتظار کوي یعنې د مخکښې رسېدو خوشحالي زما زیاته نصیب نۀ شوه.

په مقرره وخت چې جهاز پله روان شو نو مخامخ راته یو وړوکے شان جهاز ښکاره شو چې ظاهراً یو ډرون جهاز ښکارېدو ځکه چې دومره وړوکے خو صرف ډرون کېدے شي خو په دې جهاز کښې د میزائیلو په ځائے سورلۍ ورننه باسلې شوې. حېران په دې شوم چې جهاز د یوې دیکې سره پورته شو او دا خبره زمونږ په تجربه کښې نۀ وه. ځکه چې جهاز د پورته کېدو نه اول کافي منډه وهي او بیا پورته کېږي خو دې وړوکي جهاز ته لکه چې د منډې ضرورت نۀ وۀ. مونږ ته وئیلي شوي وو چې مونږ به څلوېښت منټه کښې رسېږو. کابل ائرپورټ ته چې ورسېدو نو د فضائي کوربنو چائې مو لا پوره ګوټ کړې نۀ وه چې مو حساب ولګولو نو اتۀ نیمې بجې وې خو د ائر پورټ په ګړۍ کښې اووۀ نیمې وې، د کابل او پېښور تر منځ مو نیمه ګېنټه بائللې وه.

په کابل ائر پورټ زمونږ استقبال د امور خارجه اهلکار اجمل جان وکړو چې سم له سحره زمونږ په انتظار ولاړ وۀ. دا بیله خبره ده چې د هغوي وزیر خارجه جناب رنګین دادفر سپانتا او د سیمینار جوړونکے داؤد مرادیان چې د سټرېټجک سټډیز سنټر ډائرېکټر هم دے دواړه دغه وخت په کابل کښې موجود نۀ وو. د ائر پورټ نه تر کابل انټر کانټي نینټل پورې لاره ډېره زیاته سبق ورکونکې په دې ښکاره شوه چې یو خو راته دا معلومه شوه چې د ټول کابل سړکونه نړولي شوي دي او ډېر ګړندے کار پرې شروع دے. دویمه خبره دا وه چې د حد نه زیاته ګڼه ګوڼه وه او تګ پکښې داسې ګران وو لکه چې د اېم اېم اے په دور کښې په پېښور کښې تګ ګران وۀ خو دغلته چې په خلقو کښې کوم صبر او زغم موجود وۀ هغه د لیدو قابل وۀ. داسې ښکارېده چې د کابل اوسېدونکو د محترم افراسیاب خټک صاحب دا خبره پیسکې پورې تړلې ده چې ((پښتنو د خپلې برخې ټول جنګونه کړي دي پکار ده چې اوس څو سوه کاله افغانان د هیڅ یو جنګ او جګړې برخه جوړ نۀ شي.))

په یوه موقع زمونږ ګاډے په بل ګاډي د ورختو نه لږ څۀ کښې بچ شو خو چې زمونږ د ډرائیور د تندي ګونجې ئې ولیدې نو هغې بل ګاډي واله ((خېر باشد خېر باشد)) ووې او لاړو. دا طرز عمل په حقیقت کښې زمونږ په لغت کښې نۀ وۀ ځکه مو د دې طرز عمل ستائنه وکړه. ګاډے چې هوټل ته داخل شو نو د تلاشۍ اخستو نه پس مونږ له د دننه تللو اجازت راکړے شو او دا هر څۀ زمونږ د حفاظت په خاطر شوي وو. دربانانو د افغانانو د روایت مطابق لاسونه په سینو ایښي وو او ډېر په مینه ئې زمونږ هرکلے کولو چې په جواب کښې ئې مونږ هم په سینه لاس کېښودلو او د هغوي د هرکلي جواب مو ورکولو. د ضروري اندراج نه چې وزګار شو نو معلومه شوه چې محترم افراسیاب خټک په لابي کښې موجود دے. د هغوي سره مو ملاقات وشو او د سیاسي او قومي امورو په حقله چې په کومو خبرو نۀ پوهېدو او د هغې جواب مو نۀ لرلو د هغې جواب راته هغوي راکړو. زمونږ ملګري او په کابل کښې د باچا خان ټرسټ نګران سېد عثمان سنجش هم مونږ له ځان رارسولے وۀ. لونګین ولي خان

غوښتل چې هغه ټول کابل ښار ووینې او سیل ئې وکړي خو د سترې والې او خوب له وجې مونږ د هغوی دا خواهش سردست نهٔ شو پوره کولے. مونږ سید عثمان سنجش صاحب ته ووې چې د مازیګر او ماښام ترمنځ راشه نو مونږ به درسره لاړ شو او د لونګین خان دا ارمان به پوره کړو.

زمونږ د سفر ملګری بلکې امیر قافله ډاکټر فضل الرحیم مروت صاحب او ما ډېر ځله کابل ښار لیدلے دے ځکه نو په مونږ کښې هغه هومره جوش نهٔ وهٔ. ماښام سنجش صاحب راغلو او مونږ د هغوی په ګاډي ګښې د ښار په منځ کښې جوړ شوي سټي سنټر ته لاړو. سټي سنټر څهٔ وهٔ د طرز تعمیر یو شاهکار وهٔ. د کابل په منځ کښې دا دریافت مونږ ډېر په غور او حېرانۍ وکتو. کله چې دې سټي سنټر ته دننه شو نو د صفایۍ انتظام ئې هم د عمارت په شان اعلي وهٔ، معلومه نهٔ ده چې د کوم ملک د سپین کاني نه جوړ شوے دے. د یورپ نزاکت او افغاني هېبت او استحکام په داسې طریقه یو کړي شوي دي چې په لفظونو کښې ئې بیان نهٔ شي کېدے. شیشه کارۍ او وړو وړو لفټونو د دې حسین او جمیل عمارت ښائست یو په دوه کړے وهٔ. دغلته د مختلفو څیزونو دکانونه وو. مثلاً کالي پټري، پېزار، او د آرائش او زېبائش سامان په ډېر زیات مقدار کښې پروت وهٔ. د دې سټي سنټر برنے چت د اوسېدو دپاره وهٔ. مونږ پوه نهٔ شو چې په دې چت کښې مختلف فلېټس دي یا کمرې دي بهر حال هلته خلق اوسېدل. په دې سنټر کښې د خرڅ دپاره د اینبو شوو څیزونو د قیمتونو نه اندازه لګېده چې د کابل د خلقو مالي حالت ښنګه دے او دا زمونږ دپاره ډېره د حېرانۍ خبره وه. په یو دکان کښې مو یوه جوړه بوټان ډېر خوښ شو (د ځان دپاره نه ځکه چې زهٔ بغېر د چارسدوالو څپلو نه بل پېزار نهٔ استعمالوم لکه څنګه چې د بریانۍ وغېره نه په ثقافتي توګه الرجک یم) لونګین خان طرف ته چې ئې وروړاندې کول نو ما پرې د قیمت لګېدلې پرچې ولیده نو 24570 په نظر راغلو. ما خو اول خیال وکړو چې دا به سیریل نمبر وي خو دکاندار ووې چې نهٔ، دا ئې قیمت دے. چې په پاکستاني روپو کښې تقریباً اتهٔ څلوښت زره جوړېدې ځکه چې زر روپۍ نن سبا د پینځهٔ نیم سوه افغانو برابر دي او اوس هغه زمانه نهٔ ده چې په درې روپۍ به سل افغانۍ کېدې. مونږ دا د نیم لک روپو بوټان ډېر په احترام یو طرف ته کېښودل او د طبقاتي نظام ټول درسونه مو رایاد کړل او د خپل پرولتاریت د دولت سره د دکان نه رابهر شو. کېدے شي چې په کابل کښې دومره قیمتي پېزار استعمالولے شي خو زمونږ حال او مزاج د دې پېزار نه کم وهٔ. بهر چې راووتو نو سېد عثمان سنجش صاحب انکشاف وکړو چې د دې سنټر په تاخانه کښې یو ریستورانټ هم دے. د پېزار قیمت زمونږ طبیعت موړ کړے وهٔ او غوږونه مو لا هغسې سرهٔ وو ځکه نو ډېر په ویره ویره ریستوران ته ورننوتو، ما هلته هم اصرار کولو چې خپل هوټل ته واپس ځو خو سنجش صاحب او لونګین خان نهٔ منله. دوی د جوس او نورو شیانو آرډر ورکړو. خو زهٔ خپلې هغې ویرې چې زما په زړهٔ کښې موجوده وه په دې وېنا مجبوره کړم چې صاحبه مونږ جوس وغېره نهٔ څښو کهٔ د چایو یوه پیالۍ ملاو شي نو لږ به تازه شو. ویره راسره دا وه چې داسې نهٔ وي چې څهٔ مو په جېب کښې د ځان

سره راوړي دي دا دې ريستورانټ کښې پرې ږدو. زمونږ ملګري ډاکټر مروت صاحب هم د ملګرو د پوهولو ډېر کوشش وکړو چې جوس به ښۀ وي ځکه چې د هغوي په خيال کښې چايو سره صحت خرابېږي خو مونږ هغۀ ته څنګه وئيلے وے چې د جوسو څښلو سره به زمونږ معاشي صحت تباه او برباد شي. بهرحال کومه چائې چې مونږه هلته وڅښه په هغې کښې پسته او بادام وغېره هم شامل وو او مونږ وويرېدو خو خبر شو ځکه چې د بِل مونږ ته پته ونۀ لګېده هغه زمونږ ملګري سېد عثمان سنجش ادا کړے وۀ او مونږ د شرم له وجې د هغوي نه پوښتنه هم ونۀ کړې شوه چې د بوټانو او جوس په قيمت کښې څومره فرق وۀ.

(ياده دې وي چې دا سفرنامه په روزنامه سچ کښې قسطوار چاپ شوې ده او مشتاق مجروح يوسفزي "پښتون" دپاره ترجمه کړې ده)